استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

عبدل قیوم ۲۲ جولای، ۲۰۲۲

# ۱۳۵۲د چنګاښ ۲۶ د بد مرغیو پیل وو.

## سردار محمد داود خان او داود خانی له ۱۳۵۲ – ۱۳۵۷هـ پوري

دوهمه برخه

ښاغلی محمداصف آهنګ په خپله یوه مقاله کي چي د خدای بخښلي محمدعلی «تاج» د زیږیدنی د۹۵ کلیزي په ویاړ په لندن کي جوړه سوي وه د سردارمحمد داود خان په باب داسي وائی:"دا کترمحمودی، میرغلام محمدغبار، میرمحمد صدیق فرهنګ د کابل او چاردهي څخه ځانونه د پارلمان د اتمي دورې له پاره کاندېد کړي وو. له بل طرفه هم د نداخلق او وطن اعضأ لکه دهقان بخشي، عبدالله قریشي، مولوي خسته او محمدعالم مظلوم یار له دغو دوجمعیتوڅخه ځانونه کاندېد کړي وو. د دفاع د وزېر سردارمحمد داود خان په هدایت په انتخاباتو کي مستقیم لاسوهني کېدي، د مطبوعاتو د قانون خلاف سردار محمد داود خان د هغوی د انتخاب د لاري خنډ سو چي ملي شورا ته لاره پیدا نکړي. "په دوام یې وائي چي زه آهنګ او عبدالحی عزیزی د انتخاباتو هیئت ته ورغلو، ورته ومو وویل چي موږ دغبار نماینده ګان یو. د کمیسیون مشر یو ملأ وو، موږ ته یې وویل دا دخدای کور دی دلته نماینده، ممایندہ نه چلیږي لاره مو وهی چي بیا مو ونه وینم. هغه ووچي سردار محمد داود خان خپل د خوښي خلګ پارلمان ته کامیاب او مخالفین یې زنداني کړه.. ښه وایي.

(۱) قُرغ: زه یې د خپل کلي کور په مانا سره کاروم، زموږ په کلیو کي به د پسرلي په شروع کي ځیني چمن نونه، د رود د غاړي ځنګلونه د یوې میاشتي له پاره قرغ سول، چا ته به اجازه نه وه چي چمن ته خپل حیوانات ورولي، البته کله چي به د چمن واښه څه غټ او پاخه سول، بیا به قرغ مات او هر چا خپل حیوانات چمن ته ور ایله کول، دغسي د (توتو) د ونو، د پیستو ځنګلونه اونور(قُرغ) کېده...

( ۲) لیونی: روایت داسي دی کله چي سردار محمد داود خان په جلال اباد کي والي او د قول اردو قوماندان وو، مګر په واقعیت کي د عمر له مخي یو خام، نازولي شهزاده هلک وو، یوه ورځ د جلال اباد څخه د موټر په سوارلی د کابل پر خوا راتلی. په لاره کي یي یو ځوان ولېدی چي پر خره یي وابنه بار کړي او خپله هم د بار پر سرسپوردی. ځوان شهزاده سردارمحمد داود خان دلاري پر سر خپل موټر و دراوه، د موټره څخه را ووتی، او برابر د هغه کلیوالي هلک پر خوا ورغی کوم چي دوښو د بار په سر کي پرخپل خره سپوردی. هغه یي د باره څخه لاندي راشوه کړ او څو چپلاخي یي ووهی. په دې وخت کي کلیوال خلګ یي تماشي ته راغله ځوان هلک چي نه پوهیږي ولي او پرڅه د موټروال لخوا ووهل سو، او شهزاده هم نه پیژني نور څه یي دوسه نه کیدل بد الفاظ ښکنځل یي کول، یوطرفه ته هلک په خپله ګناه نه پوهیدی او بل سرداداودخان نه پیژني، د لته د کلیوالو خلګو څخه یو سړي وه هغه وهل سوي هلک ته وویل چي پام کوه دا سردار داود خان دی. ځوان بد ویل بس کړل د خپل خره او بار پر خوا روان سو، چي څه لیري سوو مخ یي راوګرځاوه داسي یي وویل " خلګ ناحق تا لیونی نه بولي ته خو په رښتیا لیوني ئې". دا خبره عامه سوه او سردارمحمد داود خان پدې نوم مشهورسوو.

لیکونکي" دغه د لیوني لقب یا افتخاري نوم و سردار محمد داود خان ته د کندهارخلګو ورکړی دی. او داکترهاشیمیان هم په خپل واردا تصحیح کړېده کور یي اباد.

راسی د سردار محمد داود خان د کودتا(د چنګاښ ۲۶) کولو رښنه نوره هم لڅه کړو. د محمد ظاهر شاه برحاله د ژاندارم او پولیسو د لوي قوماندان ښاغلي تورن جنرال سیدعبدالغني خان خبرې په غور سره و لولو، چي تورن جنرال د چنګاښ تر کودتا دوې شپې مخکي په ارګ کي له ارګ نشینو سره وکتل څه یي وا ورېده او وه ولیده؟ د سردارمحمد داود خان تر کودتا کولو مخکي د محمد ظاهرشاه په حکومت کي د ټول افغانستان د ژاندارم او پولیسو لوی قوماندان تورن جنرال سیدعبدالغني خان لیکي: " زه د سردارمحمد داود خان د کودتا کولو په ټول پلان ښه خبرسوم. پوره اسناد په لاس راغله د شاهي کورنۍ غړو ته مي خبر ورکړه، هیڅ چا توجه نه کول. دا چي ما ډېر کلونه د شهزاده احمد شاه د ظاهرشاه د مشر زوی د خاص یاور په توګه وظیفه اجرأ کړې وه، بالاخره زه مجبور سوم چي دا خبره له محترمي ملکې حمیرا او خپله د شهزاده احمد شاه سره شریکه کړم. چي سردار محمد داود خان د کودتاه کولو ترتیبات نیولي دي. ما د دوی ملکې او شهزاده احمد شاه څخه وغوښتل چي د کودتا چیانو د ګرفتاری امر صادر کړي. او دا مي هم پر اضافه کړل چي که یي نه کوی

راتلونکی مسؤلیت به ستاسي پرغاړه وي، او دا خبري ټوکي نه دي. دوی خاموشي اختیار کړه. وروسته یې راته وویل چې د سردارعبدالولي سره خبري وکړه".

له اصلي لوبي څخه بې خبره افغان خپلې وظیفې او مسلک ته وفاداره جنرال سید عبدالغني خان ته چې د کودتا کولو اسناد لاسته ورغلي وه د ملکې او د سلطنت د کفیل له لیدو څخه مأیوس سو، وروسته چې دوی ورته وویل له سردار عبدالولي خان سره خبري وکړه، دی بیچاره په یوه منډه او صداقت د شاهي کورنی د ساتني په مقصد ځان سردار عبدالولي خان یا د سلطنت بل واکدار ته رسوي، جنرال سید عبدالغني د خپل زړه غوټه سردار عبدالولي ته خلاصوي، ټولي هغه خبري ورته کوي کوم چې ده وملکې حمیرا او شهزاده احمد شاه ته کړي وې. تورن جنرال ولیده چې سردارعبدالولي خان هم بې علاقې وو، سردار عبدالولي و تورن جنرال صاحب سیدعبدالغني خان ته په قهر جنه لحجه جواب ورکوي؟ داسي ترجمه : " اُوجنراله؛ هیڅوک د کودتا توان نه لري، ورځه ته دي خپلې وظیفې ته متوجه اوسه، پام دي وي چې تر دې زیات زموږ په کورنیو موضوعاتو کې لاس و نه وهې". لیکوال: ( د دې خبرو مانا څه کېداسي؟)

د هر چاه خپل زړه چې واقعیتونه څه ډول بیانوي، لڅوي او که یې له ولس څخه د پټ ساتني تلاښونه کوي. ډېرو کوښښ کړی دی چې واقعیتونه پټ کړي او یا یې ماستمالي کړي " تاریخ هغه دی چې تیرسوی دی، رښتیا هغه دي چې پیښ سوي او عملي کړل سوي دي ". نور نو د لوستونکو کار دی، خو واقعیت داسي دی لکه د محمد ظاهر شاه د پاچهی پر وخت د کورنیو وزیر ډاکترعبدالقیوم خان یا هم د هغه وخت د پولیسو او ژاندارم لوی قوماندان تورن جنرال سید عبدالغني خان چې وایي، دوی اوربېدلي نه بلکي لیدلي دي. د دوی خبري د بل د خولې هواي بیانونه نه دي. نو مخکني محترم وزیر ډاکتر عبدالقیوم خان نه دی چې وای، د سردار محمد داود د چنګاښ(۲۶) نیتي کودتا دا د شاهي ارگ د ننه د کورنۍ ترمنځ په توافق سره جوړه سوې وه د خپلې واکدارۍ دوام ته نوی رنګ او ساه ورکول، د کودتا تر نوم لاندي بل څه نه وه، بلکي ټول شواهد داسي ښيې. تورن جنرال صاحب عبدالغني خان هم د خلاف ویلو سړی نه وو او نه دی، جنرال صاحب دوځله د تحصیل د پاره خارج ته تللی، تورن جنرال وو. بل د ملکې، د سلطنت دوارث احمد شاه او د دفاع دوزیر سردارعبدالولي ټولو خبري یوشان وې، نو فکر نه کوم چې ظاهرشاه دي د دې ټولو خبرو څخه بې خبره وو بلکي دا یوه جوړه سوې توطیه وه.

خبره خو له هغه وخته را خرابه سوه چې محمد ظاهر شاه و ښاغلي سردارمحمد داود خان ته د صدارت چوکۍ وسپارل. مخکي هم دا سي ګونګوسې وي چې سردار محمد داود خان یو(سور شهزاده

دی). عمل و ښول چي سردار محمد داود خان او سردار محمد نعیم خان شورویانو ته نژدې سوي وه. د ده د صدارت پر وخت د شوروي مرستي او قرارداونه د دې خبري تصدیق کوي. بیا د ۱۳۵۲ هجري کال د چنگاښ( ۲۶) نیټي کودتا یې بل ثبوت دی. چي له هغه وروسته و افغانستان ته ډېرو پردو هیوادونو لاسونه را وغزول او لاس وهني پیل سوې.

د چنګاښ د (۲۶) نېټې د کودتا په باره کي ښاغلي سلطان علي کشتمند په خپل" یاداشت هاي سیاسی رویدادهاي تاریخي، خاطرات شخصي".. .. کي لیکي: ترجمه: "سهار وختي د سرطان د میاشتي پر۲۶ نیټه زه خبر سوم چي زه باید نن د سهار پر پنځو( ۵) بجو د میراکبر خیبر په کور کي چي د کابل په مکرویانو کي واقع وو هلته د مرکزي کمیټي د اجرائیه هیأت په غونډه کي برخه واخلم. تر پنځو بجو څو د قیقي مخکي چي زه د خیبر کورته ننوتم، هلته ببرک کارمل، نوراحمد نور او میراکبر خیبر ناست وه. وروسته له څو د قیقو نور غړي هم راغلل. خیبر ګذارش ورکړ چي ترنیمي شپې وروسته په کابل کي د سردارمحمد داود خان ترمشرۍ لاندي نظامي کودتایي عمل سرته رسیدلی دی. هغه وویل چي زموږ یوه ملګري کوم چي ډاکتر محمد حسن شرق یې پر زهري پوش سپور لیدلی وو، هغه ملګرۍ چي یو ساعت مخکي د حسن شرق له خولې له موضوع څخه خبر سوی وو، ملګري بیله ځنډه ببرک کارمل خبر کړ، نو فیصله پردې سول چي د اجرائیه هیائت غونډه جوړه کړو". . په ۲۷۰ ص

ګرانو لوستونکو دا خبره ډېره دغور وړ مسئله ده.

اول: تر نیمي شپې وروسته د ډاکتر حسن شرق لیدنه چي پر ټانک سپور وو؟ بیا یو بل پرچمی په دغه شپه حسن شرق ویني، بیا حسن شرق وخت لري چي پرچمي ته کیسه کوي ،سردار محمد داود خان کودتا کوي؟ په ښار کي د شپې پر ګرځیدو بندېز لګېدلی وو. هغه پرچمي بیا په دغه شپه د ببرک کارمل کورته ځان رسوي او ببرک کارمل له جریانه خبر وي، حال دا چي د ببرک کار مل کور په سرای غزني کي وو، ببرک کار مل بیا مکروریانو ته د خیبر کور ته راځي، بیا تصمیم نسي چي د مرکزي کمیټي غونډه باید جوړه سي، هغه هم د سهار وختي پر پنځو(۵) بجو؟ بیا ټول غړي خبروي ټول ځانونه د خیبر کور ته را رسوي تعجب. عجبه یوه ډرامه ده. ولي؟ سلطان علي کشتمند د محمد داود خان د چنګاښ د۲۶ مي نېټې د کوتاه جریان بل لور ته بیائي ولي په کودتا کي د پرچم له لاس لرلو څخه ځان تېروي؟. د ښاغلي کشتمند کور د کابل ښار په چندول سیمه کي وو شپه ده کودتا یې فعالیتونه شروع دي، نیول، نیول روان دي د ښارټول سړکونه بند دي، بیله د شپې له نامه لرلو څخه تګ او راتګ په ښارکي هغه هم تر یوي بجي وروسته څه اسانه خبره نه وه. دا ځکه

کودتا د شپې پر دولس(۱۲) بجو شروع سوېده. بيا هم د اجرائيه بيرو ټول غړي په دغه شپه او تياره کي و مکرويانو ته ځانونه را رسوي دا بل تعجب؟

نبي عظيمي په خپل اردو او سياست نومي کتاب کي ليکي:" په شپه کي حسن شرق او غوث الدين فائق ماته راغله ما مسلح کړه. " مگر ښاغلې کشتمندصاحب ليکي چي خيبر مور. ته راپور راکړ چي حسن شرق په زهري پوښ کي سپور وو، بيا بل ځای ښاغلې نبي عظمي ليکي :"د کودتا په شروع کي کله چي ما وزير دفاع ونيوی او محمد داود خان ته مي ورساوه حسن شرق له داودخان سره ولاړ وو. او د کودتا له شروع څخه يوساعت تيرسوی وو. " رښتيا خو داده چي سردارمحمد داودخان، حسن شرق، ببرک کارمل او د شوروي سره په رابطه کي دا کودتا تا بيا کړې وه

د پرچم رهبری ته په دغه شپه کي ملايکو ټوله اسانتياوي برابري او موانع د دوی دراجمعه کيدو په وخت کي ليري کولې او دوی په دغه شپه بيله دې چي خطر احساس کړي خپله غونډه کوي. ايا د پرچم د مشرتابه ټولو غړو په کورنو کي تليفونونه لرل؟ که يې لرل هم د کودتا په شپه مخابرات قطعه وه، په دغه شپه تر۱۲بجووروسته يې کار نه کاوه، څوک وه او ياڅوک وو هغه شخص او اشخاص چي داجرائيه غړو تر کورونو ولاړل او ټول يې خبره کړل، دغه اشخاصو ته چي د خبر تيا وظيفه يې اجرأ کړه دوی ته څنگه او چاه خبر ورکړ؟ او خورا ډير نور سوالونه. ښه داوه چي کشتمند دا مسئله هيڅ ليکلي نه وای يا يې درسته لېکلې وای. "هغه څه چي هوښيار خلگ يې په زړونو لېدلای سي ساده خلگ يې په خدای (ج) ورکړوجوړو دوو سترگو نسي لېدلای ".

ښاغلې عبدالقدوس غوربندی په خپل اثرنگاهی به تاريخ حزب د موکراتيک خلق افغنستان کي ليکي: ترجمه" ښاغلی حسن شرق خلاف د دغه چي نن ورځ په دوه مخي او منافقت سره انکار کوي، د نظام د تغير(کودتا) او ضرورت په باب محمد داود خان د لومړی علاقمندی راپور چي د اعتماد له مخي يې د ده سره شريک کړي وو، ده د پټو لېدنو پروخت وببرک کارمل ته راپور ورکاوه، حزب و ښاغلې حسن شرق او فيض محمد دواړو ته د دوی دوظيفو د حساس والي په نسبت چي په جلا جلا توگه يې تماس نيوی، مهمي لاښوونې وکړې چي په هراړ خيزه احتياط او طبعي ډول يې سرته ورسوي". ص۳۵.

په دوام يې بياعبدالقدوس غوربندی ليکي:ترجمه"د کودتا ترکامياب کيدو وروسته حسن شرق چي د سلمان لايق سره نژدې همسايه وو، د سليمان لايقه يې غوښتنه وکړه چي د پرچميانو رهبري دي يوه وينا" بيانيه خطاب به مردم" ورته وليکي، څو سردارمحمد داود خان يې د خپل کاري پلان په نوم ولولي. دی ياحسن شرق به هغه د خپل ځان لخوا د سردارمحمد د داود خان مرکزي کميټي ته

وسپاري. دغه بيانيه د پرچم د سياسي بېرو لخوا په ډېره محرمانه توګه وليکل سوه، د سليمالايق پرلاس د صدراعظم مرستيال حسن شرق ته ورکړل سول.

دا دی ارګ نشينو، روسانو او د ببرک کارمل په لاس لرلو د يوې جوړي کړي سناريو له مخي ليونی سردار محمد داود خان پر افغانستان باندي دا ځل قول اختياره حاکم سو. سردار محمد داود خان د کاکا دزوی کورنی ايتاليا ته دغتو، غټو ډکوبکسو( تبصرې داسي وې چي بکسونه د ډالرو، زرو او ګاڼو ډک وه) سره په خير ايټاليا ته ور وه ليږل، محمد ظاهرشاه خان هم خپله استعفاء ورته راواستول. اوس نو د شاهي د نوم په عوض جمهوري نوم وکار ول سوو. شاهي ارګ، شاهي ګارد، اوس جمهوري نوم کمائی کړ. د اصلاح ورځ پاڼه، جمهوری ورځپاڼه سول. په بېرق کي باښه يا ټپوس علاوه سو. د کودتا تر پېروزی لږ ورځي وروسته د ببرک کامل له طرفه د پرچميانو پر حکومتي چو کيو د مقرريو نوم لړ د کورنيو چارو وزېر ته ورکړه سو، د حسن شرق په لاربښونه، د سردارمحمد داود خان په منظوری څلور اتيا (۸۴) تنه پرچميان ور پيژندل سوي وه ټول ولسوالان مقرر سوه. دغه رنګه پر چميان د واليانو او قومندانانو په صفت په حکومت کي تعين او مقرر سول " دغه شان ډېري مهمي امنيتی چوکي هم پرچم ته ورکړل سوې، مثلاً غلام فاروق يعقوبی چه د داکترنجيب الله د خاد د رياست پروخت د خاد مرستيال او کله چی داکترنجيب الله رئيس جمهورسوغلام فاروق يعقوبي يې د خاد وزيروو. قطره، صمد ازهر، محمدنبی مياخيل، عبدالله همکار، عبدالباقی اتمر، حاجي محمد ځکمنی جليل نورستاني او نور. حتی پر کورناست، تقاعد سوي د پرچميانو پلرونه يې هم پر وظيفو وګمارل. لکه د ببرک کارمل پلار جنرال محمدحسين خان د پکتيا د قول اردو قوماندان سو، د داکترنجيب الله خان پلار اخترمحمد په پيښور کي د تجارووکيل سو، دعبدالصمد ازهر پلارعبدالکريم عمر خيل د پروان والي سو. " محمود حبيبي د کابل والي او محمداصف پاس يوسفي د بغلان والي سو " دغه دوه وروستي ذکرسوي دعبدالحق مجددي او ډاکترفضل الله مجددي د ليکني" از امير کبير تا رهبر کبير" په اساس سرسخت پرچميان او د سردار محمد داود خان طرفداران وه ص۵۶۵. امکان لري نور به پر چميان پاته نه وه چي مقر سوي دي نه وي. نو دا وو په افغانستان کي روس پلوهه جمهوريت، سر دار محمد داود خان( سور شهزاده) دا ټول کارونه يې د شوروي د مشرانو د خوشحالی د پاره وکړه.

دا کتر ګوستاولو بون فرانسوي مورخ وائی:" هرټولنه کي سړی بايد خپل مقام وساتي، ليکن نبايد د هغو نفوذ ترمعين حد تيرسي. ولي چي په دې صورت سره هر ډول، ترقی او پرمختګ ته فالج

پیښنوي. په" کلیله او د منه " کې لیکل سوي دي:"له ظالم پاچا څخه چې کمزوري رایه ورکونکي وزیران لري باید د ملک او خلګو د ټینګښت او سولې توقع ونه سي.

سید مسعود پوهنیار د خپل اثر((ظهورمشروطیت وقربانیان استبداد درافغانستان)) په ۲۴۲ص کې لیکي"یوه ورځ محمد حسن ولسمل د داود خان د پېش خدمت سره په لاره کې تصادف وکړی. پېش خدمت محمد کریم و ولسمل ته وویل: چې پر رئیس صاحب داود خان خو تاسي ګران یاست. ولسمل ورته جواب کي وویل، بلی هو! ریس صاحب دولت خو ډېر مهربان شخصیت دی ". دا امکان لري چې دا زما یو کارت ورته ورسوي؟. کریم وویل هو، نو ولسمل داود خان ته پر خپل کارت باندي داسي ولیکل" زه افسوس کوم چې تاسي د قدرت په وخت کې څوک نه پېژنی".

کریم خان د ولسمل کارت یا خط سردار داود خان ته ورسوی. ولسمل وائې:"دوې ورځې وروسته مي حسن شرق غواړي، او راته وائی چې یو ځل رئیس صاحب داود خان ته ورسه". پوهیږی چې څه وسول؟.

دا دی خپل پخواني اشنای، اوسني رئیس جمهور ته ورسېدم. په دې اُمید چې نورنو د خواری څخه خلاص سوم. کله چې د فتر ته داخل سوم، سلام مي وکړی، ډېر سوړ جواب مي واورېدی. ومي غوښتل چې کښېنم سردار راته سردار سو، سترګې یې راباندي را وایستې، په لوړ اواز او قهر جنه لهجه یې راته وویل: ترجمه "هغه بل احمق دي د کنډز په چوک کي زما پرضد بیانیه ورکړه او تا د پست شفیق سره ماموریت قبول کړی او اوس پر خپل کارت ماته داسي لیکي په کوم حق؟" البته د شفیق څخه د سردارمحمد داود خان مقصد مخکني صدراعظم ډاکترموسی شفیق وو" خیر تر ډېر توهئین او خبرو اورېدو ورو سته یې زه ولسمل د کوهدامن د ولسوال پرمقام مقررکړم. په دوام یې ولسمل لیکي: څنګه چې د داود خان له د فتره راووتم مستقیم د محمدهاشم میوندوال کور ته ولاړم. میوندوال ته مې د داود سره د خبرو ټول جریان ووایه. زما ولسمل ترخبرو اورېدو وروسته میوندوال داسي وویل:"داود خان ښه سړی دی خو د شلو کالو دوست د مخبر د یوې خبري سره هم نه برابروي. " دا خبره هم باید هیر نسي چې محمدهاشم میوندوال د ولسمل صاحب تر ورتګ (ملاقات) دوې ورځې وروسته بندي کیږي او د سردار محمد داود خان لخوا په بې رحمانه توګه وژل کیږي. ولاهوعالم. سوال پیدا کیږي، او باریکي د خبري هم داده چې ولي او د څه دپاره به ولسمل صاحب د سردار محمد داود خان ترلېدو، تهدید او د حاکم په حیث د مقرری تر وعدې وروسته مستقیم د میوندوال لېدو ته ورځي؟ په داسي حال کي چې ولسمل صاحب پدې خبره ښه پوهیدی چې سردارمحمد داود خان د محمد هاشم میوندوال سره چپ او مخالف دی، میوندوال لا له وختي څخه د سردار محمد

داود خان تر ځار لاندي وو او دا خبره ولسمل صاحب ته روښانه او څرګنده هم وه، د سردار محمد داود خان  هيڅ نه خوښيدل د هغه دوستان د ده له مخالف سره وګوري يا په حکومت کي ور سره کار وکړي او يا کښيني. زه د ولسمل صاحب دې جرأت ته فکر يو وړم؟ بلي ولسمل صاحب به ښه سړی وي خو دغسي يوه لوبه سويده چي اشتباه را پيدا کوي.

په دا بله شپه سردار محمد داود خان داسي لويه ناروا لوبه پيل کړه، ښاغلي محمدهاشم ميوندوال، جنرال خان محمد، جنرال ګلبهارخان، جنرال محمدرحيم خان، دګروال زرغونشاه، دګروال سيد اميرخان، جنرال عبدالسلام خان، جګړن محمدهاشم خان کامه وال، دګروال محمداکرم خان، حاجي الله نظرخان هزاربز، مولوی سيف الرحمن شنواری، سعدالله کمال وکيل، جنت خان غروال، حاجي الله ګل هود خيل، مولاګل هود خيل، حاجي حنان، محمدعارف شينواری او يو ډېر شمير نور هيواد وال يې ونيول، څه يې ووژل او څه يې بنديان کړه. د وژل سوو اشخاصو نومونه د حضرت علامه عبدالحق مجددي او داکترفضل الله مجددي په ليکلي کتاب"ازاميرکبير تارهبرکبير" کي راغلي دي :"خان محمدخان مرستيال، ډ ګروال سيدامير، ډ ګروال زرغون شاه، مولوي سيف الرحمن، عارف ريکشه او څونور. دځلرمي زغروالې لوا د تطبيقاتو په ميدان کي په داسي حال کي چي لاسونه يې ترشا تړلې وه، توري کځوړي يې په سرونو وراغوستي وې، د يوې عسکري ټولې لخوا چي د پنځلس څخه ترشل مترو په فاصله يې قرار لاره يو ځای فيرکړل.. .. .. "۵۶۸ص.

پاته نورو يې دعذاب او توهينه ډک ژوند په زندانو کي تيراوه. تر شمار ډېري کورنۍ د سردارمحمد داود خان او ملګرو له لاسه دغم پر ټغرکښينول سوي دي. يوه ورځ حتی يوځل هم د سردارمحمد داود خان کورنۍ دا فکرونه کړ، پرهغو چي دوی حکومت پر کوی هغوی هم انسانان وبولي. ښه د پوځ مسلکي جنرالان، ملي تجاران او د فکرخاوندان ووژل سول او يا د اردو له ليکو، او دولتي وظيفو څخه ليري، بنديان  يا ووژل. سردارداود خان او ورسره يارانو يې محمدهاشم خان ميوندوال چي يووخت صدراعظم، سياسي شخصيت او ملي شخصيت وو، تر ښاغلي سردار محمد داود خان په پوهه او لياقت او وطن پرستی يې لوړ شخصيت لاره. په يوه توطيه سره چي ټولو  شاهانو له دهغي توطي ځيني د ځان په ګټه استفاده کول سردارمحمد داود خان هم وکړه خلګ يې تهمتي او ووژل، او په ډېره سپين سترګي، بې شرمي، د درواغو سره مل داسي اعلانوي چي نوموړی خپله ځان ووژی.

سينه مي سترې له ډېره غمه ده<br>
پسخاک مي ډېر دی ښادي مي کمه ده

salamwatanam@gmail.com

سردار محمد داود خان پروګرام لاره چي د هیواد منورین له منځه یوسي. اول یې مخکني صدر اعظم محمد هاشم میوندوال د مساوات د ګوند مشر او ملګري دوهم اسلامي نهضت مشران او غړي، دریم یا په وروسته کي چپ سیاسي ګوندونه یو په بل پسي د منځه وړل. نوهغه وو چي د خپل پلان مطابق یې دمیوندوال تر وژلو و روسته، د شریعاتو د پوهنځی رئیس غلام محمد نیازی د ملګرو سره ونیوی او ژر یې اعدام کړه. یوه میاشت لا تیره نه وه یو بل نوی ځوان چي په پو هنتون کي یې د اسلامي نهضت مشري کول حبیب الرحمن د یو ډېر شمېر نورو ځوانانو سره نیسي او اعدامه وي ئی. ډېر ځوانان زندان ته د شکنجي او عذابه سره د داود خان میلمانه سوه. سره لدي چي د اسلامي نهضت غړو د حکومت په خلاف مسلحانه اقداماتو پر وخت ونیول سول خو حکومت باید د محکمي دپریکړي له مخي ورسره عمل کړی واي.

اصلي خبري ته را ځو د سردار محمد داود خان د دې سرټمبه ګیو او وژنو نتیجه همدا سول څو د پاکستان شېطاني ادارې ( اې، ایس، اې) چي د خپلي زوکړي څخه د افغانانو یوه اساسي د ښمنه اداره وه او لاده، هغی ادارې د سردار محمد داود خان د بیکار ادارې په شتون کي په اساني سره و کولای سوای په افغانستان کي د اسلامي نهضت فکري خط السیروال ځوانان چي سردار داود خان ټکولي وه، د اصلي لاري منحرف او د اسلامي سخت درېځي، بنیاد ګرې د یوسازمان د جوړېدو پر خوا یې ورټیل وهي چي د لته هم د داود خان غلط سیاست او نامناسب بر خورد وو، د ځوانو، افغانانو سره. هغه وو چي په افغانستان کي قاضي حسین احمد پر لاس ددې بنیاد ګرې جنګي له اسلامه منحرف سازمان تاداب په پغمان ولسوالۍ کي کېنبیبنودل سوی وو.

د دوهمه برخه پای

salamwatanam@gmail.com